لومړۍ کچه

# یوه ځانګړې ځاله

education above all
التعليم فوق الجميع

StoryWeaver
PRATHAM BOOKS



**لیکوال:** کویتا سینګ
**انځورګر:** پارتو سینګوپتا
**ژباړن:** کویتا سینګ

THE YALDA HAKIM FOUNDATION
Educate-Empower-Inspire

Smile Please(Pashto), Published by Pratham Books, under a CC BY 4.0 license on StoryWeaver .



ژمی د رارسېدو په حال کې
دی. یوه مرغۍ د یوې ځالې
جوړولو پرېکړه کوي.



هغه واړه واړه ډکي او ښاخونه راټولوي
او په احتیاط سره خپله ځاله جوړوي.



تر ډېر احتیاط او زیار نه
وروسته، ځاله چمتو ده. دا
توده او مسترح ده.



مرغۍ خوشحاله ده. هغه اوږده
غځېږي او په ويښه د يوه آرام او
سوکاله ژمي خوبونه کتل پيلوي.



دا چې هغه نږدې ده ویده
شي، هغه احساسوي چې
کوم شی خوځیږي.



مرغۍ فکر کوي ”ښايي دا باد
وي چې ځآله لړه خوځوي.“

خو ځاله خوځېږي او
رپېږي او لا نوره خوځېږي.



مرغۍ له ځالې څخه الوځي. بله شېبه، ځاله په ځمکه لوېږي.



مرغۍ ګورې چې يوه فيله په
ونه باندې خپله ملا ږروي.
هغه ډېره غوسه ده.

"دا څومره بې ډبه يې،
اى فيلې!" هغه ډېر په
قار سره فيلې ته وايي، او
په الوتلو سره له هغه
ځآيه ځي.



هغه د يو نوي ځای لټول
پيلوي. داسې يو ځای چې د
فيلانو د رسېدلو څخه لېرې
وي.



هغه د يوې نوې ځالې جوړول
پيلوي.



په احتياط او سخت زيار
سره، هغه يو کور جوړوي. دا
چې هغه سترې ده هغه ژوره
ويده کيږي.



دا چې هغه نږدې ده خپلې سترګې
پټې کړي، د هغې سترګې په دوه
سترو، ګردو سترګو لګېږي. دا سترګې
دې ته برندې برندې ګوري.



دا یو رنګمال دی.
هغه د دې ځاله راپورته کوي او لېرې یې غورځوي.
بیا هغه یو برس راخلي او د دېوال رنګول پیلوي.



مرغۍ ډېره غوسه ده.“”ای انسانه! دا ته څومره بې ډبه یې.“ هغه په غوسې سره هغه باندې غبرګوي او په الوتلو سره له هغه ځایه ځي.

د هغې زړه له خپګانه ډک دی.



د الوتلو پر مهال، د هغې سترګې
په یوه هوايي پوکانۍ لګېږي چې
په هوا کې څرخي.



او بیا په یوه بله ګوري!



هغه لاندې ګوري او ګڼ
شمېر پوکانۍ ويني!



مرغۍ پوکانیو ته ګوري او
ذهن ته یې یوه خیال راځي.



په احتیاط او زیار سره هغه یوه
نوې ځاله جوړوي.

دا ځل هیڅوک هم نه شي کولای
چې هغه ناآرامه کړي.

## لارښودونکې پوښتنې

1. مرغۍ خپله ځاله له څه شي سره جوړه کړه؟
2. مرغۍ خپله ستونزه څنګه حل کړه؟
3. آیا ستاسې په اند فیله او رنګمال بې ډبه وو؟ ولې یا ولې نه؟
4. ستاسې په اند مرغۍ ولې ځالې جوړوي؟ آیا تاسې داسې کوم ځای لرئ چې ستاسې ځاله معلومه شي؟
5. که ته مرغۍ وې، تا به خپله ځاله چېرته جوړوله او ولې؟